مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان

۲۰۲۰/۱۰/۱۸

# غــــزل

انــنــګــي يې دومــره سره پــه څـه سبب دي؟
عــجـیـبـه ده جــنـتـونــه پــه غـضـب دي

ښـکـلــي مـخ تــه خـامـخـا سترګې وراوړي
بـــوراګــان خــو د ګـلــونــو په مـذهب دي

د ریـــا زاهـــدان ســـپـي د دوزخـــونـــو
شــاعـران خـو شـاګـــردان د ښـکلي رب دي

وې يې سترګې مې درياب دی دروم‌ه وړي دې
مــا وې نـــه ځــم عــادتـونــه مــې د کـب دي

ستـا بــانـه مـې د زړه جېب کې وهي ګوتې
لــکـه شوخ مـاشـومــان څـومـره بې ادب دي





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ